دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلـنـه واورېده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منه وکړي او له الله نه وډار شـي او لـه سرغړونې څخه یې خان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکینې ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت　　دریم کال، ۳۸ مه ګڼه، پرله پسې ۱۳۸ مه ګڼه　　چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د لیندۍ ۳۰ مه　　د۱۴۳۳ هـ ق د محرم ۲۵ مه　　د۲۰۱۱ م د دسمبر ۲۱ مه

رییس جمهور کرزی روی گشایش یک دفتر برای مخالفان توافق کرد

کابل، رسانه ها:

رییس جمهور افغانستان به تازه گی در یک نشست مشورتی با برخی از چهره های سیاسی و رهبران جهادی کشور، روی گشایش یک دفتر برای مخالفان توافق کرد.

آنچه موجودیت عدم هماهنگی در تلاشهای حکومت افغانستان و برخی دیگری از کشور ها در جهت گفتگو با طالبان خوانده شده، به گفته ی برخی ها سبب گردیده، تا این تلاشها یکنوع فضای بی اعتمادی را به میان بیآورد.

دولت افغانستان می گوید، هیـچ کشور و گروهی نباید بدون مشوره ی افغانستان در پروسه گفتگو های صلح در این کشور مداخله کند.

اما گزارشها می رسانند، که ایالات متحده ی امریکا و جرمنی می خواهند، با ایجاد دفتر سیاسی برای طالبان در قطر، زمینه ی گفتگو با این گروه را فراهم کنند.

محمد امین فرهنگ عضو پیشین کابینه ای

بقیه در صفحه ۴

طالبان کولای شي یو فعال حکومت له منځه یوسي، خو زموږ دښمنان نه دي "جوبایډن"

طالبان په خپل ذات کې زموږ دښمنان نه دي، که څه هم دا ډېره خطرناکه خبره ده

واشنګټن، رسنۍ:

د وسله والو طالبانو په اړه د امریکا د متحـدو ایالتونو د تګلارې په بدلېدو سره په اشاره د امریکا مرستیال ولسمشر ویلي، چې د سپتمبر د۱۱مې له پېښې مخکې د کابل واکمـنـان د دوی دښمنان نه دي.

د امریکا مرستیال ولسمشر جوبایډن دغه څرګندونې له نیوز ویک مجلې سره په یوه مرکه کې کړې، چې په دې وروستیو کې یې خپرې کړې دي.

د جوبایډن له دغو څرګندونو وروسته د امریکا سپینې مانۍ هم په ډاګه کړې، چې د طالبانو له منځه وړل د دوی موخه نه ده.

هغه زیاته کړې: "وګورئ! طالبان په خپـل ذات کې زموږ دښمنان نه دي، که څه هم دا ډېره خطرناکه خبره ده."

پاتې ۴ مخ

پاکستان: هغه څه چې په افغانستان کې پېښېږي مسولیت یې نه لرو

کابل، رسنۍ:

په ملګرو ملتونو کې د پاکستان استازي وایي، هېواد یې د هغه څه چې په ګاونډي افغانستان کې پېښېږي مسولیت نه لري.

اسوشیتېډ پریس اژانس د رضا بشیر تارړ په حواله وایي، پر دغه هېواد تورونه لګـول د سیمې لپاره ګټور نه دي.

تارړ د پاکستان په مهمند اجنسۍ کې د ناټو د وروستي هوایي حملې یادونه وکړه او هغه یې یوه خواشینونکې پېښه وبلله.

نوموړي وویل، دا حمله د پاکستان له ملـي حاکمیت او د ملګرو ملتونو له منشور څخه پلان شوي سرغړونه وه.

په ملګرو ملتونو کې د پاکستان سفیر وویل، هېواد یې د افغانستان د سولې او ثبات لپاره ژمن دی او اسلام اباد کولای شي په دې برخه کې ګټور رول ولوبوي.

رضا بشیر تارړ زیاته کړه، چې افغـانستان، پاکستان او نړیواله ټولنه باید د مسولو شریکانو به توګه په ګډه عمل وکړي او د یوبل د ارادو په اړه په بیړه شک او قضاوت ونه کړي.

د نوموړي په وینا پاکستان غواړي، چې نړیواله ټولنه په افغانستان کې کامیابه شي څکه چې دا د پاکستان په ګټه دی.

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر حامد کرزي د تېرې یکشنبې په ورځ په پاکستان کې میشت سخت دریځي وسله وال په کابل کې د عاشورا د ورځې د خان وژونکي حملې،چې نږدې سل کسان په

پاتې ۴ مخ

افغانستان هم په مستبدو رژیمونو کې شمار شو

په دې لست کې ایران، ترکمنستان، سعودي، ازبکستان ، میانمار، شمالي کوریا او سودان تر افغانستان وروسته دي

آزادي راډیو:

د ایکونومیست خپرونې په تیر یوه کال کې نړیوالو سیاسي حالاتو ته په توجه، په هر هېواد کې د ډیموکراسۍ د څرنګوالي پر اساس د نړۍ د هېوادونو یو نوم لست خپور کړی دی.

په دې لست کې د افغانستان نوم تر ډیرو هېوادونو شا ته راغلی .

په لست کې اول د ناروې نوم راغلی دی او د مدني ازادیو په برخه کې یې له لسو څخه لس نومرې اخیستې دي. د امریکا متحد ایالات په دې لست کې نولسم ځای لري او د بشري ازادیو په برخه کې یې تقریباً نه نیمې نومرې ګټلې دي.

د هند شمیره ۳۹ ده او د بشري ازادیو په خاطر یې د ایکونومیست په دې نړیوال رپوټ کې څه باندې نه نیمې نومرې اخیستي

پاتې ۴ مخ

وضعیت امنیتی افغانستان نسبت به گذشته بهتر شده است "ویتیک"

کابل، رسانه ها:

آلمان روز دوشنبه گفت، علیرغم وقوع حملات پراگنده، در مجموع ثبات در افغانستان، بهتر شده است.

پیتروتیک فرستاده، آلمان در سازمان ملل متحد که در اجلاس شورای امنیت صحبت می کرد گفت، در کنفرانس بن، روی شماری اصول و ستراتیژی های موافقه صورت گرفت که مطابق آن دیموکراسی، رعایت حقوق بشر و حکومتداری در افغانستان انکشاف می یابد. این کنفرانس در

بقیه در صفحه ۴

دوکتور محمد انور

ملت ما صلح میخواهد از هر کجایی تضمین شده بتواند

در این روزها موضوع داغ بحث در همه نشرات تصویری، صوتی، روزنامه ها و جراید مذاکرات امریکا و کشورهای غربی با طالبان و گروه های مخالف مسلح دولت افغانستان است. چه مسؤولان دولت و چه صاحب نظران از قماش های مختلف، سویه های متفاوت و نیات و آرزوهای گوناگون خاصتاً برنامه های تلویزیونی را محل نقاش و گفتگو قرار می دهند.

لازم می دانیم روی نقاطی که به اهمیت این مذاکرات برای کشور و جامعه جهانی روشنی می اندازد هموطنان عزیز خویش از دولتمدار تا چشم انتظار آگاهی بخشیم و دین وطنی خود را ایفا بنمائیم. در حالیکه کشورهای غربی در رأس آن ها ایالات متحده امریکا در کنفرانس نوامبر ۲۰۰۱ بن تعداد مجموعی قوتهای دفاعی افغانستان را هفتاد هزار نفر پذیرفته بود و قبل از آن پیغام همین کشورها از زبان ممثلین آنها در شورای مشورتی راولپندی افغانستان بدون قوای نظامی مطرح بود اکنون که ضرورت ما به یک نظام دفاعی و امنیتی نیم ملیوني از جانب آنها تشخیص داده شده است. مگر این کشورها جز مقابله با مخالفین مسلح نظام دلیل دیگری برای آن سراغ دارند؟

(بقیه در صفحه دوم)

تعلیمي بورسونه او ناانصافه وېش

عبدالله کامه وال

دریم مخ

د م.م. د سوله ساتو مشر افغانستان ته اوږدمهالو مرستو ژمنه وکړه

کابل، رسنۍ:

د ملګروملتو د سوله ساتو ځواکونو مشر تېره ورځ نړیوالې موسسې ته ډاډ ورکړ چې له افغانستان سره به په خپلو ژمنو ودرېږي او په دې غور کوي چې له دې هیواد سره په داسې حال کې څه ډول مرسته کولی شي چې افغانانو ته امنیتي مسوولیتونه ورلـه غاړې کېږي او په خپلو پرمختیایي چارو کې لویه ونډه اخلي.

د سوله ساتو عملیاتو لپاره د ملګروملتو د سرمنشي مرستیال هیرفي لادسوس (Herve Ladsous) امنیت شورا ته، چې د افغانستان پر حالاتو یې خبرې کولې، وویل: "ملګري ملتونه داوږدې مودې لپاره دافغانستان د حکومت او د دغه هیواد د خلکو ملاتړ ته ژمن دي."

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

افغانان په قطر کې د مخالفینو د دفتر د پرانیستو هر کلی کوي

افغانانو لپاره دا یو ښه خبر دی چې وسله وال مخالفین د قطر په هېواد کې دفتر پرانستلو ته چمتو شوي دي، هغوی تر اوسه پورې یو مستقل ادرس نه درلود او د سولې په اړه ورسره مخامخ خبرې اترې نشوای کېدلې، که واقعاً هغوی په قطر کې دفتر جوړ کړي نو دا به د سولې د خبرو اترو د پرمخ وړلو لپاره یو ښه فرصت په لاس کې ور کړي.

د تېرو څو کلو راهیسې مخالفینو سره د خبرو اترو پروسه څکه له خنډ او ځنډ سره مخامخه وه چې هغوی یو څرگند آدرس او مشخص نماینده گان نه درلودل، بله غټه خبره دا چې هغوی لـه داسې مصؤن ځای او ډاډمنې فضا څخه هم محروم ول چې له څه ویرې او فشار پرته د خپل زړه خبرې و کړي.

ډېرو خود غرضو او بې هویتو کسانو به د خپلو بادارانو په فرمایش خپل ځانونه د مخالفینو د نماینده گانو په نوم په پټ ډول د سولې د عالي شورى له غړو سره اړیکې نیولې او هغوی ته بـه دومره ځانونه نژدې کول چې د سولې شورى به له مخالفینو سره د خبرو اترو د بریالیتوب زیرې ور کاوه یو وخت خو خبره تر دې گرمه شوې وه چې د سولې شورى به په فخر سره دا خبره کوله چې له مخالفینو سره د سولې مذاکرات وروستی پړاو ته رسېدلي دي، چې همدغه خوش باورې بالاخر د استاد رباني په وژنه منتج شو، د قاتل اته پته ونـه لـگيد چې دا څوک و؟ د کوم ځای و؟ او د چا زوی و؟ دا دومره لویه فاجعه څکه منځ ته راغله چې له مخالفینو سره د خبرو اترو لپاره نـه مشخص دفتر و، او نه هم پېژندل شوي باوري مشهورې څهرې بلکې د افغانستان دښمنانو به خپل ماهیان نیول.

د استاد رباني له وژلو وروسته، د ولسمشر کرزي او د سولې د عالي شورى د غړو عقل په سر راغې او په دې پوه شول چې تر څو پورې د مخالفینو بشپړ هویت او ادرس معلوم نه شي د سولې خبرې اترې لـه تاوان پرته هېڅ گټه نه لري. ولسمشر کرزي غوښتنه وکړه چې مخالفینو ته دې په سعودي یا ترکیه کې د دفتر د خلاصولو اجازه ور کړى شي، ترکیه هم د کرزي د غوښتنې په ځواب کې د افغانستان د دولت مخالفینو ته پخپل هېواد کې د دفتر د پرانستلو وړاندیز و کړ، کېدای شي مخالفین همدې حقیقت ته رسېدلي وي چې په دربه‌گړى اسلامي هېواد کې دفتر جوړول د دواړو لورو لپاره له گټې خالي نه دی نو څکه یې په قطر کې د دفتر د جوړولو لپاره چمتووالې وښود. که څه هم د افغانستان دولت قطر ته له دې کبله چې مخالفینو ته د دفتر په پرانستلو کې افغان حکومت سره مشوره نه ده کړې خپل خپگان ښکاره کړ او پر ځای یې په سعودي او ترکیه کې د دفتر د پرانستلو غوښتنه وکړ خو د هېوادوالو په اند د افغان چارواکو دا خپگان ډېر پر ځای نه ښکاري څکه چې لـه ټولو نه مهمه خبره د مخالفینو آدرس او دفتر معلومېدو ته اړتیا وه چې پـه قطر کې د پرانستلو له لارې ترسره شوه، نه ښایي افغان دولت دغه غټه لاسته راوړنه ضایع کړي. که ښه ځیر شوو نو په قطر کې د مخالفینو دفتر جوړېدل اصلاً د سولې د خبرو اترو د بریالي کېدو د بنیاد لومړنی ډېره ده، لدې وروسته به د اعتماد په فضا کې له معتمدو شخصیتونو سره نیغ په نېغه خبرې اترې، او د یو بل دریځونه او دلائل به اوریدل کېږي. هغه خنډان به په گوته کېږي چې د سولې مخه یې ډب کړې، او هغـه لارې چارې به سنجول کېږي چې سوله او باور یقیني کړي.

له دې واقعیت نه دې ستر گې پټې نه کړى شي چې د افغانانو مطلق اکثریت پخپل هېواد کې امن او سوله غواړي، له جنگ جگړې سترې او تر پوزې راغلي دي، هېچاته اجازه نه ور کوي چې د سولې پـه لاره کې اوچت شوي گامونه سبوتاژ کړي. د سولې عالي شورى او د حکومت جگپوړي چارواکي دې د مخالفینو دغه مثبت گام پـه نـیک فال ونیسي او په بشپړ صداقت دې ورسره د سولې خبرې اترې پـرمخ بوځي.

دا د دنیا دستور دی چې جگړې یې تل په سوله حل کړي دي. او لـه سولې پرته بل هېڅ حل نه لري، که داسې نه وای نو له نن نه ډېر وړاندې پیل شوي جنگونه او لانجې به تراوسه رواني وې او نړۍ به د جگړو پـه لمبو کې سوځېده.

میم زرما ټول زما په ویلو سره د امن ژوند ناشونی دی، واقعي امن بـه هله راځي چې د نړۍ اوسېدونکي پخپلو کې د یو بل روا حقوق ومنـي او هر چاته په عزت سره د ژوند تېرولو فضا برابره کړي.

ټول افغانان دهمدې خاورې بچیان دي، دیو بل د محوه کولو او لـه صحنې نه د ویستلو منطق هر گز مثبته پایلې نه لري.

حکومت او مخالفین دې له دې وروسته په خړه سینـه د یـو بـل استدلال او روا غوښتنې واوري، خودغرضي، خودخواهي او لـویـي غوښتنه دې په تاخچه کې کېږدي او پر ځای دې د خپلې عقیدې، خاورې، استقلال او د ولس گټې په نظر کې ونیسي او په دې تـوگه د جنگ په لمبو کې ولاړ ولس ته سوله او امن ډالۍ کړي.

ملت ما صلح میخواهد از هر کجایی تضمین شده بتواند



(بقیه از صفحه اول)

هرگاه کشور ما با درآمد محدود سالیانه موجوده قادر به پرداخت مصارف یک اردو و پولیس نیم ملیونی نباشد و نگهداشتن چنین قوا ما را به پذیرفتن شرایط و منت سایر کشورها سازد، این امر در حالیکه غرور ملی به میراث رسیده ما را صدمه زند حساسیت کشورهای منطقه را نسبت به ما هم بیفزاید چه حاصلی نصیب ما خواهد نمود؟ همین اکنون مشاهده می کنیم که راه های ترانزیتی ما را همزمان و متفقانه به رخ ما محدود نموده اند.

تحمل لشکر نیم ملیونی به کشور بیست و چند ملیونی افغانستان خیلی ها دشوار خواهد بود و همان وصیت امیر شیر علی خان به پسرش امیر محمد یعقوب خان را بیاد می آورد که "لشکری بیش از توان و امکانات را نگاه نکند".

در شرایط کنونی برای ما مشکل خواهد بود، از نظر شمار عساکر و پولیس و ساز و برگ نظامی با کشورهای همسایه به رقابت بپردازیم. و این ساز و برگ گاهی هم نتوانسته کشور ما را در برابر تهاجم اجنبی بی نیاز سازد. و زمانی هم که دشمنان بسوی این سرزمین با نگاه حسد و خصومت نگریسته اند. فرزندان غیور آن در برابر آهن پاره های دشمن جانهای عزیز شان را سنگر دفاع وطن ساخته اند تاریخ اخیر کشور ما گواه بزرگ دفاع فرزندان این سرزمین در برابر تهاجم لشکر شکست ناپذیر سرخ شوروی می باشد. و منطق سپری نمودن دوره مکلفیت عسکری دو ساله هم همین بوده است که هر افغانی از هر قومیتی باشد و هر سمت و لسانی با رسیدن به سن بیست دو سالگی با نظام و قواعد عسکری و سلاح دست داشته اردوی افغانستان آشنا گردد و هر زمانی دفاع از وطن ازو سروجان بخواهد مردی آزموده کارزار به میدان حاضر گردد. و افغان معنیش مرد مبارز آماده دفاع از وطن و نوامیس ملی و مقدسات باشد نه باردوش دیگران و منتظر رحم و کرم اجانب.

هرگاه نشست مشترک افغانستان، پاکستان و ایران بتواند دو کشور همسایه را به عواقب سؤ حضور نظامی غرب در افغانستان متوجه ساخته و کشورهای منطقه که این موجودیت را تحدیدی برای خود منافع و مصالح خود تشخیص می دهند ضامن نتایج و تعهدات میان این کشورها گردند. ملت مسلمان و مجاهد افغان با توجه به سوابق تاریخی خویش باید برای کامیابی این تفاهم امیدوار باشد. هرگاه حکام اسلام آباد. و تهران نسبت به آینده این منطقه احساس کوچکترین مسؤولیت را هم داشته باشند در حالیکه صدور جنگ افزار و وسایل تخریب را به وطن ما متوقف بنمایند از دل و جان برای آوردن صلح و ثبات در افغانستان دست بهم داده و همه زمینه ها را فراهم آوردند. ما باور داریم اگر همسایگان افغانستان که اکنون دوام جنگ و بی ثباتی را کارزار رقابت های ناجائز مصالح خود تشخیص داده اند به خطرات آینده این توع تصرف متوجه گردند و دست پرورد گان خود را به جنگل ساختن افغانستان تشویق نه

©AP

نموده و ماهی مسموم شده از آب گل آلود بدست نیاورند، آنها هستند که آینده تضمین شده ثبات را در منطقه رقم می زنند و این روسیه، چین، هند، ترکیه، کشورهای خلیج خواهند بود که بر چنین توافقی صحه بگذارند و آنرا تضمین کنند تا نیروهای خارجی مستقر در افغانستان مانند آنکه دیروز عراق را ترک گفتند با آرامش خاطر افغانستان را هم به افغانها بگذارند.

ما از رئیس جمهور کرزی که سالهای اخیر ریاست جمهوری قانونی شان را سپری مینمایند انتظار داریم به این نشست کسانی را معرفی نمایند که بخاطر تحمیل مصالح مافیائی شان و بقای شان برقدرت و خدمت به نشنلیتی های جدید خود، فضای همچو اجتماعات و توافقات را مختل ننموده و بخاطر ادامه قراردادهای عقد شده شان با شرکای بین المللی فساد راپورهای مغرضانه تهیه نکنند و گوسفندها را گرگ و پلنگ را گوسفند قلمداد نکرده و راه های رسیدن به توافقات آبرومندانه به ملت افغان و سودمند به منطقه را سد ننمایند.

تا آنجا که به توافقات صلح با مخالفین تعلق می گیرد ملت ما از نظام حاکم خواهان ختم جنگ و آوردن آرامش و ثبات است دولتی که قوای نظامی پنجاه کشور در تائید از آن می رزمند و در سراسر جهان و همه مجامع منطقوی و بین المللی ممثلین آن نشسته است چگونه می تواند بخاطر باز شدن یک دفتر برای ادامه مذاکرات صلح در هر کجائی که باشد بخود تشویش راه دهد، چقدر اتکاء به نفس را از دست داده باشد و تا چه اندازه از تائید و حمایه ملت خود و جامعه جهانی ناامید باشد که مخالفین مسلح نظام بتواند از یک دفتر محاصره شده چنان توسعه یابد که همه جهان را اشغال نماید و با مشروعیت نظام رقابت کند.

قابل توجه است که انتخابات ریاست جمهوری امریکا که بزرگترین میدان مسابقه در جهان به شمار می رود روزهای داغ مبارزات انتخاباتی خود را سپری می کند، هرگاه حزب بر سر اقتدار دیموکرات و در رأس آن بارک حسین اوباما دست آورد بزرگی در افغانستان نداشته باشند (حتی اگر مقطعی هم باشد) تا آنرا به نمایش بگذارد، برای آنکه قصر سفید توسط رقبای جمهوری خواه آنها اشغال نشده باشد آنها آماده اند هر مهره ای در اختیار شان باشد غرض بازی به میدان بکشانند خواه معامله با طالبان باشد یا کار دیگر و در کجائی دیگر. و برای دولتمردان ما که فقط بخاطر دفع همین مخالفین مسلح نظام که آنها را مهره های بازی همسایگان می دانند در پی امضای پیمانهای استراتیژیک و دادن پایگاه ها به دیگران شب و روز در تلاش اند مقرب و متخصص همان هائی را می شمارند که کشور ما را در بند پیمان جدیدی بیاورد و لو هر قدر ذلت بار هم باشد مگر ارزان و آسان نخواهد بود که بجای وضع شروط عاجز کننده بر طرف مقابل بة آشتی و تفاهم لبیک گفته و کشور خود را از میدان جنگ ابرقدرت ها و پامال شدن جان، مال و حیثیت هموطن خود نجات دهد.

و از آنهائیکه بودجه نظامی ما بر آنها بار است انتظار آنرا نداشته باشد که برای سبک ساختن شانه های شان از این بار با مخالفین نظام باب مذاکره را باز ننمایند حتی اگر در غیاب دولتمردان ما هم باشد.

تعلیمي بورسونه او ناانصافه وېش

عبدالله کامه وال

د تحصیلي بورسونو د څرنګوالۍ، پروسې، شمېر او نورو په هکله بحث زموږ خبره نه ده، اما زموږ د بحث موضوع د دغو بورسونو د وېش د څرنګوالي مسئله ده، چې له هره اړخه هم د هېواد د اوسمهاله شرایطو او هم د راتلونکي لپاره ډېره مهمه ده. په افغانستان کې له څو پرلپسې کلونو را په دې خوا د تحصیلي بورسونو په وېش کې سخته بې عدالتي شوې او دا بې عدالتي اوس هم روانه ده. تحصیلي بورسونه باید د اړتیا او وړتیا په پام کې نیولو سره ورکړل شي او همداشان ټولنیز انډول او عدالت هم په کې په پام کې ونیول شي، خو له بده مرغه په افغانستان کې په دې برخه کې داسې یوه ساري ناروغي خوره ده، چې له منځه وړل یې اساسي او دقیقې درملنې ته اړتیا لري. باید ووایو، په افغانستان کې د ښاغلي کرزي د حکومت تر رامنځته کېدو وروسته ډېرې بهرنیو هېوادونو دې ته زړه ښه کړ، چې افغانستان ته تحصیلي بورسونه برابر او ولېږي. که څه هم پخوانیو حکومتونو ته دا ډول بورسونه ورکول کېدل، خو د کرزي د حکومت پر مهال دا بورسونه ډېر شول او امریکا، کاناډا، ترکي، جاپان، روسیې، چک، جرمني، فرانسې، انګلستان، کوریا، هندوستان او پاکستان په ګډون ډېرې هیوادونو د دا ډول بورسونو د ورکولو لړۍ پیل کړه او افغان محصلانو ته یې بورسونه راولېږل. خو په تأسف سره باید ووایو، چې دا بورسونه نژدې نوې سلنه د قومپالنې، ګوندپالنې، سیاست او زورواکۍ او سوداګرۍ قرباني شول. دا ټولو ته څرګنده ده، چې افغانستان ته زښت زیات بورسونه راغلل او لا هم راځي، خو تر اوسه پورې د دې بورسونو، نه سمه پوښتنه شوې او نه هم وړ او مستحقو کسانو ته ورکړل شوي، بلکې د دغو بورسونو شاوخوا نوي سلنه هغو کسانو ته ورکړل شي او یا ورکول کېږي، چې هغوی یا قوي واسطې او اړیکې لري او یا هم په دولت کې لوېې ستې دي. تاسې وګورئ اکثره هغه کسان چې په بورسونو باندې ځي، چې هېڅ لیاقت نه لري، خو واسطه او اړیکې یې ښې وي، نو پر همدې بنسټ د بورس مستحق ګرځي. همدا اوس اوس کوم کسان چې په بورسونو باندې ځي، یا د دولتي چارواکو زامن، خپلوان او نژدې کسان وي او یا هم داسې کسان وي، چې زور او پیسې لري او له همدې لارو د بورس وړ بلل کېږي. دا سمه ده، چې دوی د بورسونو د وېش لپاره یوه کړنلاره لري، یانې ازموینه اخلي او ازادې سیالۍ ته یې وړاندې کوي. خو دا هسې یوه نمایشي پروسه او کړنلاره او د خلکو د غولولو او فرېب ورکولو لپاره یې په کار اچولې او په دې توګه خلکو ته دا ښیي، چې ګنې موږ عدالت او وړتیا په پام کې نیسو، خو د پردې ترشا بیا کیسه بل ډول روانه ده. د بېلګې په توګه که یو هېواد افغانستان ته بورسونه لېږي، نو دلته هغه بورسونه ازادې سیالۍ ته وړاندې کېږي، په ازاده سیالۍ کې ګڼ کسان برخه اخلي، خو کله چې د بورس لپاره د بریالیو کسانو نوموونه راوځي، هماغه کسان بیا د واسطو او اړیکو والاوو او همداشان له زورواکانو سره اړه لري، یانې د بورس لپاره د کس انتخاب بیا هم پردې شاته پر سیاسي، ژبنیو او قومي ستنو ولاړ وي. د دې خبرې د ثبوت لپاره تر ټولو غوره او پر ځای خبره داده، چې ولسمشر کرزي یو بې پرې او باصلاحیته پلاوي وټاکي، داسې یو پلاوي، چې یوازې د خدای لپاره وواېي، نه د بل او بل لپاره. او په دې توګه هغه بورسونه ټول وڅېړي، کوم چې د ده د واکمنۍ له لومړیو نه تر ننه پورې وېشل شوي او هغه کسان دې هم ټول په ګوته کړي، چې په چا او چا پورې اړه لري، له کوم قوم او کومې ژبې سره اړه لري، څومره وړتیا لري او د کومې وړتیا پر اساس ورکړل شوي دي؟ نو په دې توګه به ولسمشر کرزي ته دا په ډاګه شي، چې څومره بورسونه وړ او څومره ناوړ کسانو ته ورکړل شوي دي. زه دا نه وایم، چې چارواکي او زورواکي او یا د هغوی خپلوان او زامن د دې حق نه لري، چې بورس ورته ورکړل شي، بلکې بورسونه تر ټولو د مخه د اړتیا، وړتیا او ټولنیز عدالت د اصل پر بنسټ باید ووېشل شي، نه داسې چې هغه د چا خبره (میم زور ما، ټول زما). که موږ د بورسونو د څېړنې لپاره پورتنی لاره، یانې د باصلاحیته او بې پرې پلاوي د څار او څېړنې لار غوره کړو او بیا ربښتینو پایلو ته وګورو، نو دا به ټولو ته په ډاګه شي، چې په تحصیلي بورسونو کې څومره پراخې درغلۍ شوې او څومره بورسونه د اړیکو، قوم، ژبې او پیسو پر بنسټ ورکړل شوي دي. د دغو بورسونو په اړه داسې ناتایید شوي راپورونه هم شته، چې په دولت کې یوه وړوکي اقلیت قوم ته نژدې اویا سلنه بورسونه ورکړل شوي او دا خبره هلته حقیقت پیدا کولای شي، چې کله د بورسونو په اړه دقیقه او پر ځای څېړنه وشي.

په هر صورت دا هغه ستونزې دي، چې د اندېښنې وړ دي او د دې ستونزو اساسي حل ته د یوې سمې او پر ځای لارې غوره کول اړینه او ضروري خبره ده او د دې کار لپاره باید ولسمشر پخپله یو عادل، باصلاحیته او بې پرې پلاوی وټاکي، تېر ورکړل شوي بورسونه هم له سره و ارزوي او د راتلونکي لپاره هم یوه داسې کړنلاره وټاکي چې له مخې یې په بورسونو کې پراخه بې عدالتي له منځه لاړه شي او که په دې برخه کې کوم اقدام ونه شي، نو ښایي له ځانه سره په راتلونکي کې ډېرې ناوړې پایلې هم ولري.

شماری از اعضای ولسی جرگه در برابر تصمیم ایران عکس العمل جدی نشان دادند

رادیو آزادی:
شماری از اعضای ولسی جرگهء افغانستان در برابر تصمیم ایران مبنی بر اخراج مهاجرین افغان از آن کشورعکس العمل شدید نشان داده و گفتند که ایران می خواهد از این طریق فشارها بالای حکومت افغانستان را افزایش دهد.

محمد نعیم لالی حمید زی رییس کمسیون امنیت داخلی ولسی جرگهء افغانستان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت: ایران قبل از این نیز بخاطر بر آورده ساختن اهداف سیاسی خود این گونه فشارها را بالای حکومت افغانستان وارد کرده است.

به گفته آقای حمیدزی، ایران با چنین عملکرد ها می خواهد نفوذ اش را در افغانستان گسترده بسازد و مانع امضای سند ستراتیژیک میان افغانستان و امریکا گردد:

"هدف اصلی فشار ایران بالای حکومت افغانستان به امضای سند مشارکت ستراتیژیک افغانستان با ایالات متحده امریکا ارتباط دارد، هر چند ایران تلاش دارد نفوذ خود را در افغانستان بیشتر سازد اما این کشور نسبت به افغانستان نیت خوب ندارد و فقط می خواهد سیاست و رقابت خود با امریکا را پیش ببرد."

مقامات ایرانی به تازه گی گفته اند که نزدیک به یک ملیون مهاجر افغان را که بدون داشتن اسناد قانونی در ایران زنده گی می کنند، تا سه ماه آینده از آن کشور اخراج می کنند.

وزارت مهاجرین و عودت کننده گان افغانستان این تصمیم ایران را جدی نمی داند.

اسلام الدین جرات رییس اطلاعات و روابط عامه ی این وزارت در صحبت با رادیو آزادی گفت: در عقب این تصمیم ایران کدام هدف سیاسی نهفته نیست.

به گفته ی آقای جرات این یک مساله ی اجتماعی است که حل خواهد شد.

بقیه در صفحه ۴

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(دوه دیرشمه برخه)

س ۵۲۲: چا لومړی د میخانیک په علم کې کتاب و لیکه؟
ځ: لومړی سړی چې د میخانیک علم کې تالیف کړی موسد بن شاکر کړی او پخوا دا په علم د (حیل) په نوم یادېده.
س ۵۲۳: چا لومړی د عملیاتو د ګنډ تار د حیواناتو د کلمو نه جوړ کړ؟
ځ: الرازي لومړی عالم و چې د حیوان کولمې یې د انسان په عملیاتو کې و کارولې.
س ۵۲۴: د انسان لومړی دنده څه شی دی؟
ځ: د انسان لومړی دنده دا ده چې توحید (د الله یوالی) وپېژني، د رسلان زوی په خپل کتاب (زبد) کې ویلي: د انسان لومړی وظیفه په یقین سره د الله پېژندنه، او د شهادتین وینا ده.
س ۵۲۵: چا لومړي ځل لپاره دا کشف کړه چې مس لمبې ته شین رنګ ور کوي؟
ځ: جابر د حیان زوي.
س ۵۲۶: چا لومړی د یوې تجربې په درې ځله د تکرارولو وصیت و کړ؟
ځ: جابر د حیان زوي لومړی مسلمان عالم و چې درې کرته د یوې تجربې تکرارولو وصیت کړی دی.
س ۵۲۷: چا لومړی د فکر او تدبر کولو طریقه غوره کړه؟
ځ: مسلمانو عالمانو لومړی دا کار کړی؛ ځکه چې اسلام مونږ فکر کولو ته هڅوي، الله پاک فرمایي: ایا تاسو اوښانو ته نه ګورئ څنګه پیدا شوي، او اسمانونه څنګه پورته شوي، او غرونه څنګه ودرول شوي، او مځکه څنګه هواره شوې ده. جابر د حیان زوي ویلي: اې بچیه ته باید فکر او تدبر و کړې، او حقیقت ته د رسیدلو لپاره ډول ډول تجربې په کار واچوې.
الله پاک فرمایلي: کله چې په شپیلۍ کې پو کې و شي نو له هغه چانه پرته چې الله یې وغواړي دمځکې او اسمانونو ټول مخلوق به بې هوشه شي، بیابه په کې بل پو کی وشي ټول مخلوق به ورته ولاړوي او ګوري به.
س ۵۲۸: څوک به الله پاک د دې شپیلۍ نه وروسته لومړی را ژوندی کړي؟
ځ: د بې هوشي پوکې هغه پوکی دی چې په وهلو سره یې د مځکې او اسمانونو ټول مخلوق مړ کېږي، د دې پوکې نه وروسته به لومړی الله پاک اسرافیل علیه السلام را ژوندی کړي او امر به ورته و کړي چې په شپیلۍ کې بل پوکی و کړي تر څو ټول مخلوقات بیرته را ژوندي شي، دا دریم پوکی د بعث په پوکي یادېږي.
س ۵۲۹: چا لومړی دا ویلي چې د ماشوم په نر او ښځه کې سړی سبب دی نه ښځه؟
ځ ابن سینا.
س ۵۳۰: چا لومړی په نباتاتو کې د جنس (نر او ښځې) خبره کړې؟
ځ: ابن سینا لومړی سړی و چې په نباتاتو کې یې د نر او ښځې خبره کړې، او کیدای شي دا یې د الله پاک د دې قول نه راخستی وي چې فر مایي: مونږ بلارونکي بادونه را الوزولي دي. دا نظریه ابن سینا د (لینس) په سلګونو کاله وړاندې کړې ده.
س ۵۳۱: چا لومړی د برابرو وزنونو د قانون خبره کړې؟
ځ: جابر بن حیان لومړی د برابرو وزنونو د قانون خبره کړې او په (علم المیزان) یې نومولې ده.
س ۵۳۲: لومړی ولیمه چې پیغمبر علیه السلام کړې ده کومه وه؟
ځ: کله چې پیغمبر علیه السلام د خدیجې بي بي سره واده و کړه نو اوښان یې حلال کړل او دا د هغه لومړی ولیمه وه.
س ۵۳۳: عمربن عبد العزیز چې خلیفه شولومړی کار یې څه شی و کړ؟
ځ: طبري وایي: لومړی کار چې عمر بن عبد العزیز د سلیمان د دفن نه وروسته و کړ هغه دا وچې، ده ته د خلافت ټولې سپرلۍ چې آسونه او کچرې په کې وې راوستې شوې، د هرې سپرلۍ سره مشخص سړی او اسباب موجود و، عمر بن عبد العزیز و ویل: دا څه دي؟ دوي و ویل: دا د خلافت سپرلۍ دي، عمر بن عبد العزیز و ویل: زما خپله سپرلۍ زما لپاره د هر څه نه ښه او کامیابه ده، هغه دا ټولې سپرلۍ خرڅې کړې او پیسې یې په بیت المال کې وا چولې، همدا رنګه یې هغه فرشونه او تکیه ګانې چې خلیفګانو ته خاص شوې وې خرڅې او پیسې یې بیت المال ته تسلیم کړې.
س ۵۳۴: په ریاض الصالحین کې لومړی حدیث کوم حدیث دی؟
ځ: لومړی حدیث په ریاض صالحین کې (انما الأعمال بانیات) دی.
س ۵۳۵: چا لومړی د تبې بخار او جلدي ناروغۍ تشخیص کړه؟
ځ: ابو بکر رازي لومړی سړی و چې د تبې بخار او جلدي ناروغۍ یې تشخیص او د دواړو تر منځ یې توپیر و کړ.
س ۵۳۶: چا لومړی د حیواناتو رواني حالت لوستلی دی؟
ځ: جاحظ د حیواناتو د رواني حالتو د زده کړې لومړی استاذ و.
س ۵۳۷: چا لومړی په سترې مه شې کې مصافحه (لاس ور کونه) رواج کړی ده؟
ځ: ابو داود د انس رضي الله عنه نه په روایت کې وایي: کله چې د یمن خلک راغلل، نو پیغمبر علیه السلام و فرمایل: د یمن خلک تاسو ته راغلل، او دوی لومړي خلک دي چې په سترې مه شې کې لاس ور کړ.

(نور بیا)

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

ایا افغانستان اوس هم د تروریستانو اصلي مرکز دی؟

بریتانوی اندیپندنټ ورځپاڼه په وروستۍ ګڼه کې د افغانستان او عراق د جګړو په اړه په یوه مطلب کې له یولړ څرګندونو وروسته لیکي، چې جګړې ساده پیلیږي، خو ختم یې لکه د افغانستان جګړې چې ښودلې، ډېرستونزمن کار دی.
اندیپندنټ لیکي، موږ افغانستان ته د دې لپاره لاړو، چې راته ویل شوي وو، چې د القاعده ضد وجنګیږو او د بریتانیا واټونه امن کړو. ښایي دې شي په ۲۰۰۱ یا ۲۰۰۳ کلونو کې حقیقت درلود خو ایا دا مسا له اوس هم اعتبار لري.
د ورځپاڼې په وینا کله چې اوسامه بن لادن بالاخره ووژل شو، افغان طالبانو هغه نه ساته بلکې زموږ دوه مخې متحد پاکستان دا کار کړی و.
ډېر کسان داسې فکر نه کوي، چې افغانستان دې اوس د القاعده د تروریستي فعالیتونو اصلي مرکزوي.
د اندیپندنټ په وینا اوس اساسي ستونزه دا ده، چې په افغانستان کې برې یواځې هله ترلاسه کیدای شوای، چې په دریو پوځي، سیاسي او اقتصادي اړخونو متکي یوه ستراتیژي تطبیق شوې وای.
د دغې ستراتیژۍ د لومړۍ برخي عملي کیدو ته پرته له دې، چې دوو نورو ته یې پاملرنه وشي، دوام ور کړل شوی او هغه لاس ته راوړنې چې یواځې په یوې برخه کې ترلاسه شوي، دوام نه شي راوړلی.
د امریکا د بهرنیو اړیکو شورا خپرونه د افغانستان په اړه په یوه مطلب کې لیکي، یوې پاکستانی سخت دریځې ډلې په افغانستان کې پرشیعه ګانو د ډسمبر د شپږمې د حملې مسوولیت په غاړه اخیستی.
خپرونه لیکي، دا له ۲۰۰۱ کال راهیسې له هغه مهاله چې په دې هیواد کې د طالبانو واکمني نسکوره شوې، په دې هیواد کې ترټولو لویه فرقه یي حمله وه.

د خپرونې په وینا د دې حملې اهمیت په دې کې و، چې موږ له افغانستانه چې هره ورځ په دې هیواد کې شخړې رواني دي، د داډول فرقه يي حملې انتظار نه لاره او د اندیښنې وړ خبره دا ده، چې دا ډول حملې دوام ونه کړي.
د بهرنیو اړیکو شورا خپرونه لیکي، پاکستانی لشکر جنګوي ډلې چې یوه تروریستي ډله ده او په پاکستان کې یې ډیرې فرقه یي حملې ترسره کړي، د دغې حملې مسوولیت په غاړه اخیستی.
خو د خپروني په وینا، کارپوهانو چې د دغې ډلې د لومړنیو ادعاو په اړه اندیښنې څرګندې کړي، علت یې دا دی، چې دا یوه داسې ډله ده، چې فعالیت یې په ښارونو کې ډېر متمرکز دی او داسې یوه ډله نه ده چې په افغانستان کې ټینګې اړیکې ولري.
د خپرونې په وینا لشکر جنګوي داسې یوه ډله ده، چې افغانستان پولې ته نژدې په قبایلي سیموکې هم مرکزنه لري. دا یوه ښاري ډله ده، چې د پاکستان د خاورې په دننه کې فعالیتونه ترسره کوي.

رییس جمهور کرزی روی ...

افغانستان می گوید، تلاش های صلح به رهبری دولت افغانستان باید طوری پیش برده شود، که بتواند اعتماد همه را به دست بیآورد:
"ایجاب می کند که یک فضای اعتماد ایجاد شود و یک آدرس موجود باشد که افغان ها در آن سهیم باشند نه دست های خارجی، اگر دست های خارجی در آن مداخله کند افغان ها در طول تاریخ به خارجی ها به نظر شک و تردید دیده و این شک و تردید را مداخلات بی جا زیادتر می سازد."
پس از آنکه تلاشهایی به هدف تاسیس دفتری برای طالبان در قطر، آنهم بدون مشوره ی حکومت افغانستان صورت گرفت، افغانستان سفیر اش در قطر را به کابل فراخواند.
سپس رییس جمهور کرزی با چهره های پر نفوذ کشور به شمول رهبران پیشین جهادی نشست مشورتی ترتیب داد.
در این نشست روی گشایش یک دفتر برای مخالفان در افغانستان و یا در یکی از کشور های اسلامی توافق صورت گرفت.
حکومت افغانستان تاسیس این دفتر را در عربستان سعودی و یا ترکیه ترجیح داده است.
ایمل فیضی سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان اخیراً به رادیو آزادی گفت، نباید به طور پنهانی و بدون مشوره ی حکومت افغانستان با طالبان گفتگو و یا زمینه ی این گفتگو ها مساعد شود:
"اگر مذاکرات با مخالفین مسلح افغانستان و ایجاد یک دفتر و یا آدرس برای مخالفان به دلیل این باشد که در نتیجه در افغانستان صلح تامین شود، ثبات بیآید پس باید اگر قرار باشد صلح در افغانستان تامین شود، پس مذاکرات هم از طریق افغان ها و به رهبری افغان ها صورت بگیرد. در غیر آن چنین مذاکرات برای افغان ها مفهومی ندارد."
اما با توجه به اظهارات تازه ی برخی از اعضای شورای عالی صلح افغانستان، به نظر می رسد، که در موضع حکومت این کشور در رابطه به ایجاد دفتر سیاسی برای طالبان در قطر تغییر بوجود آمده است.
مولوی ارسلا رحمانی یک عضو شورای عالی صلح در صحبت با رادیو آزادی گفت، این شورا و حکومت افغانستان حاضر اند، طالبان در قطر دفتر داشته باشند.
"حالا هم قطر می گوید، که ما دفتر می دهیم، فکر می کنم طالبان هم خوش دارند تا این دفتر در قطر باشد. ما آماده استیم، حکومت افغانستان و شورای عالی صلح آماده اند، تا آنان در قطر دفتر داشته باشند، همین آدرس سیاسی و راه مذاکرات است."
مقام های ریاست جمهوری افغانستان تا حال در این مورد تبصره نکرده اند.
حکومت افغانستان از یکسال به این سو به طور رسمی کوشش کرده تا با مخالفان مسلح دولت گفتگو شود.
اما کشته شدن برهان الدین ربانی رییس پیشین شورای عالی صلح به دست کسی که خودش را پیام آور صلح معرفی کرده بود، سبب شد تا حکومت افغانستان در طرح مصالحه با مخالفان تجدید نظر کند.

طالبان کولای شي یو فعال ...

جوبایډن ویلي، چې تر اوسه دوی داسې هیڅ اعلامیه نه ده خپره کړې، چې د امریکا ملي ګټو ته د ګواښني له امله د امریکا ولسمشر په خپلو څرګندونو کې طالبانو ته دښمنان ویلي وي.
خو د امریکا مرستیال ولسمشر دا هم وایي، چې په حقیقت کې طالبان په دې توانبدلای شي، چې یو فعال او شته حکومت له منځه یوسي، داسې حکومت، چې له امریکا سره د هغې د ضرر رسوونکو په له منځه وړلو کې همکار دی.
بایډن زیاته کړې: "څوک چې موږ ته ضرر رسول غواړي، نو دا په ربښتیا زموږ لپاره یوه ستونزه ده."

افغانستان هم په مستبدو رژیمونو...

دی. د دې لست یوسل او پینځم نوم د پاکستان دی چې د مدني ازادیو په ارتباط له لسو پینځه نیمې نومرې ورکړل شوې دي.
ایران، ترکمنستان، سعودی عربستان، ازبکستان، میانمار، شمالي کوریا او سودان هغه هیوادونه دي چې نومونه یې په دې لست کې تر افغانستان وروسته راغلي.
په افغانستان کې د ډیموکراسی او ښې حکومتداری د رامنځته کولو لپاره د نړیوالو له څه باندې یوې لسیزې هڅو سره سره د دې هیواد نوم د مستبدو رژیمونو په لست کې د ایران، اذربایجان، روسیې، ازبکستان، ترکمنستان او بیلاروس ترڅنګ راغلی دی.
د ایکونومیست په دې کلني لست کې د افغانستان نوم یوسل او دو پنځوسم دی او د مدني ازادیو په ارتباط یې له لسو څخه تقریباً څلور نومرې ورکړل شوې دي.
د ایکونومیست انټلجینس یونټ دا کلنی رپوټ کې د ۲۰۱۱ کال له پیل راهیسې د وقایعو پر اساس خپور شوی دی. دا رپوټ د نړۍ په لړترلړه ۱۶۷ خپلواکو هیوادونو کې وضعیت د پینځو مسئلو پر اساس څیړل شوی دی چې انتخاباتي پروسې او پلورلیزم، مدني ازادی، حکومتداري، سیاسي مشارکت او سیاسي فرهنګ دی.
په رپوټ کې د نړۍ حکومتونه په څلورو عمومي برخو ویشل شوي دي چې مطلق ډیموکراتیک، متاثره ډیموکراتیک، ګډ اړخیز سیستمونه او استبدادي رژیمونه دي.
په رپوټ کې افغانستان ته د حکومت د فعالیت په برخه کې له لسو څخه صفر اعشاریه ۷۹ نومرې ورکړ شوې دي. د سیاسي مشارکت په برخه کې له لسو څه باندې دوې نیمې نومرې لري او د انتخاباتي پروسو او سیاسي ګوندونو د څرنګوالي په برخه کې یې، له لسو څه باندې دوې نیمې نومرې اخیستي دي.
په دې رپوټ کې د افغانستان په ارتباط لیکل شوي دي چې د ولسي جرګې د انتخاباتو په جریان کې د درغلیو پرله پسې ادعاوو د دې هیواد د سیاسي ثبات خرابوالی څرګند کړ.
د توکمي توپیرونو پر اساس شخړې مخ په زیاتیدو دي او د سولې د عالي شورا د پخواني مشربرهان الدین رباني له وژل کیدو سره د دې ویره زیاته شوې چې د توکمیزو شخړو لمن پراخه شي.
د افغانستان امنیتي وضعیت ډېر خراب دی:
د برهان الدین رباني وژل کیدو په افغانستان کې د سیاسي ثبات لپاره هڅو ته ستره ضربه ورکړه او داسې ویره شته چې له مخالفینو سره د سولې لپاره د روانو هڅو د ناکامي سبب شي.
په رپوټ کې راغلي چې په راتلونکو دوو کلونو کې به چې د امریکا او نورو هیوادونو عسکر له افغانستان څخه وځي، د دې هیواد د کورنیو امنیتي ځواکونو د پیاوړي کیدو مسئله په اولویت کې وي.
په عین حال کې به د افغانستان د اقتصادي ثبات لپاره هڅې د پالیسي جوړونکو لپاره مهمې وي. نړیوال هیوادنه ښایي په څو راتلونکو کلونو کې له افغانستان سره د مالي مرستو په اړه بیا غور وکړي او ښایي ورته سخاوت ونه لري، نو د افغان حکومت د عوایدو لوړول ډېر مهم ګڼل کیږي.
د نړیوالو د مالي ملاتړ کمیدل د افغانستان اقتصاد ته سخته ضربه ورکولای شي.

وضعیت امنیتی افغانستان نسبت ...

ماه نوامبر در آلمان برگزار گردید.
در کنفرانس بن به خواست حامد کرزی رییس جمهور افغانستان از دهه انتقال حمایت صورت گرفت که بر اساس آن جامعه بین المللی از سال ۲۰۱۵ تا سال ۲۰۲۴ میلادی با افغانستان کمک مالی و نظامی می نمایند. افغانها در این ۱۰ سال رهبری سیاسی و مسوولیت های امنیتی شان را خود بدست می گیرند.
نماینده آلمان در سازمان ملل متحد در ادامهء صحبت خود به شورای امیت گفت:
"باید اطمینان به دست آید که دست آوردهای مهم ۱۰ سال گذشته در افغانستان ضایع نه شوند و همچنان افزایش ظرفیت ها و ایجاد اصلاحات به نفع افغانان، در أولویت قرار گیرند."
پیتروتیک همچنان گفت، باید به تروریستان اجازه داده نشود که افغانستان را دوباره به محل امن شان مبدل سازند.
گیدو ویسترویلی وزیر خارجه آلمان روز پنجشنبه گذشته در سخنرانی اش به پارلمان این کشور در اشاره به اوضاع افغانستان نیز حرف های مشابه با پیتر ویتیک داشت.
وزیر خارجه آلمان گفت، وضعیت امنیتی افغانستان نسبت به یک سال قبل بهبود یافته است. او همچنان اطمینان داد که بعد از خروج نیرو های بین المللی از افغانستان خلا قدرت در این کشور به میان نه خواهد آمد.
وزیر خارجه آلمان قبل از آغاز بحث روی تمدید ماموریت نیروهای آن کشور در افغانستان گفت، امسال در تاریخ افغانستان یک سال پر اهمیت بود.
آلمان، در حال حاضر در افغانستان ۵۳۵۰ عسکر دارد و می خواهد که تا پایان ماه جنوری سال ۲۰۱۲ میلادی شمار این عساکر را تا ۴۹۰۰ عسکر کاهش دهد و این رقم در آغاز سال ۲۰۱۳ میلادی به ۴۴۰۰ عسکر می رسد.

د م.م. د سوله ساتو مشر ...

لادسوس په وروستیو کې افغانستان ته تللی و او له یوشمېر چارواکو سره یې په افغانستان کې د ملګروملتو د راتلونکي رول په اړه خبرې کړې وې.
ده زیاته کړه: "موږ له څه باندې نیمایي پېړۍ راهیسې په افغانستان کې د افغانانو مرسته کوو او له ۲۰۱۴ وروسته به هم تر هغو هلته یو چې افغانان زموږ مرستې ته اړتیا لري."
د ملګروملتو د سوله ساتو عملیاتو څانګه د امنیت شورا په غوښتنه حاضردمه په افغانستان کې د ملګروملتو د مرستندوی ماموریت (یوناما) او په افغانستان کې د ملګروملتو د ملاتړ په اړه هراړخیزه بیا کتنه کوي.
د ملګروملتو د سوله ساتي ځواک مشر وویل: "نړیوالې مرستې باید له افغانستان سره د خپلو ادارو د پیاوړتیا، د اقتصادي ودې، د قانون د حاکمیت او بشري حقونو ته د درناوي په هلوځلو کې اغېزمنې وي."
ده په افغانستان کې د امنیتي مسوولیتونو د انتقال پروسې ته په اشارې وویل، دا بهیر په چټکی پر مخ روان دی خو د ده په نظر باید امنیت له پرمختیایي چارو سره غوټه کړای شي.
ده تاکید وکاوه چې افغانان باید په خپل ورځني ژوند کې، په تېره بیا له اقتصادي پلوه د پام وړ بدلون ووینې.

هغه څه چې په افغانستان کې ...

کې ووژل مسول وبلل.
دغه راز په ملګرو ملتونو کې د ایران سفیر ویلي په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د اوږدې مودې حضور یوازې د ایران او د سیمې د هیوادونو لپاره بې ثباتي رامنځته کوي.
محمد خازیي د دوشنبې په ورځ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته په وینا کې له افغانستان څخه د نړیوالو سرتیرو د وتلو غوښتنه وکړه او وویل په ایران کې په وروستیو کې د امریکا د یوې بې پیلوټه الوتکې نیونه ددې یو مثال دی ده چې په افغانستان کې بهرني ځواکونه څرنګه ددې هیواد له خاورې په ګاونډیو هیوادونو کې مداخله کوي.
خو متحده ایالات وایي چې ددوي دا الوتکه د فنې خرابی له امله رالویدلې ده.

شماری از اعضای ولسی جرگه ...

اما نادر فرهاد سخنگوی کمینشری عالی سازمان ملل متحد در امور مهاجرین می گوید: اخراج مهاجرین در هوای سرد زمستان آن هم به شکل کتلوی یک مشکل بزرگ و فاجعهء بشری است:
" از دید یک نهاد بشری امیدوار شاهد بودن یک فاجعه نیستیم که ناشی از فرستادن کتلوی افغان ها به افغانستان به وجود بیآید.
ما انتظار داریم که حقوق بشری افغان هایی که در ایران و پاکستان زنده گی دارند رعایت شود و انتظار این را به هیچ صورت نداریم که شاهد اخراج کتلوی آنها در هوای سرد زمستان از ایران باشیم."
ایران قبل از این نیز در سال های گذشته چنین اقدامات را نموده و مهاجرینی را که در میان آنان شماری از زنان و اطفال نیز شامل بودند، به شکل کتلوی اخراج نموده است.
به همین گونه شماری از افغان ها را به اتهام قاچاق مواد مخدر و بعضی جرایم دیگر نیز اعدام نمود که در برابر این عمل ایران تظاهرات بر علیه این کشور در افغانستان نیز صورت گرفت.

د غه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمیرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com